شاه ولی آرین ۲۰/۰۸/۲۰۱۲

# د کرزی صاحب فرمان، دولتی دستګاه
## اود فساد پرضد مبارزه

کله چې د متحده ایالاتو او افغان دولت ترمنځ د ډیرونانډرو، نیوکو او وړاندیزونونه وروسته ستراتیژیک تړون لاسلیک شو د دغه تړون سیاسی اوحقوقی اهمیت اوپه تړون کې هغه ژمنی، هوډونه اومکلفیتونه چې د تړون د دواړو خواوو دندی اوژمنی په کې څرګند شوی وی د سیاستوالو، شنونکو او افغان ولس هیلو اوغوښتنو په کې انعکاس موندلی وو.
مګر په خواشنیی سره چې تر اوسه دهغو ژمنو او مکلفیتونو یوه برخه هم پلی نه شوه، بلکه اداری فساد، چور، د شخصی او دولتی ملکیتونوغصب په ډېره لوړه کچه لا پسی زیاتوالی وموند چې دولتی لوړی مافیایي کړی یې اصلی عاملین اوڅرخونکی دی. هغه ښارګوټی، لوړ منزله بلډنګونه، اوپه سل ګونه نوردولتی، اوخُصوصی قراردادونه چې دکرزی صاحب د ورونو او د هغه د مرستیالانو فهیم اوخلیلی، محقق، سیاف، ربانی، اواحمدشاه مسعود، رشید دوستم، یونس قانونی په خپله او د دوی د ورونو او کورنیولو خوا تر سره شوی او همدا اوس دغه مافیایي شریکان د دی دولت او نظام د ملا تېر تشکیلوی، نوڅنګه به وشی کولای چې د خپل ځان پر ضد مبارزه او عمل وکړی، نه هیڅکله به یې ونه کړی. دا پر نامشروع مصلحتونو او قراردادونو ولاړ دولت چې بهرنی او بین المللی مافیا یې کړی او د مخدره موادو سوداګر ورسره اړیکی او ګډی ګټی لری، د ځان او خپلو بادارانو د بقا نه پرته نورهیڅ دی بی وزلی ولس او هیواد ته نه شي تر سره کولای. نو ځکه کله نا کله د لیونوشانته د دی بی وزلی ولس د غولولو دپاره چیغه وکړی او کنفراسونه جوړکړی چې د کرزی صاحب وروستی فرمان یې هم د فساد د ضد مبارزی او دولتی دستګاه کې د اصلاحاتو ښه بیلګه کیدای شي. زما په آند د متحده ایالتونود جمهوری ریاست له پاره د انتخاباتو او همدا ډول په افغانستان کې د۲۰۱۴کال دپاره چې بین المللی ځواکونه به وزی او د جمهوری ریاست دپاره به انتخابات هم تر سره کیږی دا دی د شطرنج بل چال چې هم افغان ولس ته پری یو څه هیله پیدا کړی اوهم بین المللی هیوادونه خپلوخلکوته فریب ورکړی. د فساد او نورو نومونو تر نامه د ځینو وزیرانو بی ځایه کوول او یا د میډیا له لاری د ځینو وزیرانوپه هکله د فساد، بدو اونورو منفی پدیدو خپرول لکه: د دفاع اوکورنیو چاروورزیرانوګوښه کول، او د زاخیلوال، اسماعیل خان، اوداسی نورو په هکله وړاند وینی، له بله پلوه لیدل شوی دی که چیری دغه څیری له یوی ورسپارل شوی دندی نه په ډیره بی شرمی هم ګوښه کیږی همغه ګړی په بله لوړه دنده ګمارل کیږی چې تر مخکینی دندی نورهم لا زیات د فساد چور او تالا کولوچانس ورپه برخه کیږی. بل لامل چې امریکا نه غواړی دستراتیژیک تړون ژمنی پلی کړی او افغان دولت هم خپلو ژمنو د عملی کولود پاره وهڅوی د دولتی فساد مخه ونیسی سوله او امنیت ټینګ کړی.هغه دپاکستان په هکله دامریکی دوه مخی سیاست او پالیسی ده. ټولی نړی اوپه خاص ډول امریکی ته جوته شوه چې پاکستان د تروریزم ضد مبارزه کې د ټګی سیاست خپل کړی اوصادق ندی ولی بیاهم د دیپلوماتیکو اړیکو د جوړیدو دسویری ترلاندی دپاکستان پرټولو هغو بربنډوجنایتونواو دسیسوچې دافغانستان د نا امنی او ټولوګډوډیواصلی لامل دی او همدا اوس هره ورځ په سلګونو راکټونه دپاکستان له لوری په کنړ او نوروپولوته نږدی سیموکې اورول کیږی اوپه لس ګونوملکی بی ګناه انسانان وژل کیږی هم امریکا، ناټو او هم افغان دولت چوپه خوله دی او کوم عکس العمل نه لیدل کیږی او د پاکستان د دی ټولو بربنډو تیروتنو اوسرغړونو سره سره بیا هم د امریکی باورپردوی (پاکستان)د دی مانا لری چې امریکا نه غواړی په افغانستان کې سوله او امن راشی. د امریکی د انټرپرایزر موسسی غړی مایکل روبین وایي:«پر پاکستان د امریکی باورپه افغانستان کې یوه ستره تیروتنه ده. دی زیاتوی چې د ترهګری ضد جګړه کې پر پاکستانیوجنرالانو باور د شمالی کوریا چارواکو ته دامریکی دملی ګټو د سپارلو مانا لری او دا موضوع په پاکستان کې د اسامه بن لادن له وژنی مخکی هم څرګنده وه». دپورتنی ارزونې په نظر کې نیولو سره زما له انده دا د امریکی او افغان دولت د پاره یو ښه چانس دی چې د تیرو ټولو تیروتنو د جبرانیدو دپاره د ستراتیژیک تړون د ژمنود عملی کیدو دپاره صادقانه کار وکړی، اوپه دی حقیقت وپوهیږی چې جنګ او تشدد د افغانستان د اوسنیو ستونزو د حل لارنه ده. د کرزی صاحب او ورسره مافیایي ډلی که په نظام کې دی او که یا اوس ورسره د قدرت په ویش وران او اپوزیسون کې قرارلری خو ماهییت یې یودی ښه به دا وی چې همدا اوس هم د ولس غوښتنوته غاړه کیږدی د فساد پر ضد ریښتینی مبارزه پیل کړی، دولتی دستګاه له فاسدو کسانو پاکه، کار اهل د کارته وسپاری د قانون د حا کمیت د ټینګیدو دپاره هلی ځلی وکړی، د سولی د پروګرام دعملی کیدو دپاره ریښتینی او



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

صاد قانه ګامونه پورته کړی دولت اوحکومت کې بنسټیز بدلون راوستل شي. لکه چې ولسمشرځو ورځی دمخه ولسی جرګی ته په وینا کې وویل چې نوربه په حکومتی چاروکې له چاسره مصلحت نه کوی، او دا اعتراف یې هم وکړچې تراوسه هرڅه مصلحتی ول. د همدی وینا پربنسټ چې یې دملت د استازو مخامخ وکړی اوژمنی یې وکړی چې د خپل فرمان د پلی کیدو په لار کې به هراړ خیز ګامونه اخستل کیږی. دا دی اونۍ په تیریدو دی مګر اوس هم همغه زوړملا او زړی تراویح دی. روان حالت نور د ولس د صبر کاسه نسکوریدو ته رسولی نوځکه د کرزی صاحب د رسوایې اوفساد نه ډکې اداری او مافیایې ورسره ډلود پاره ۲ لاری لیدل کیږی.

۱- دا چې د افغانستان د خلکواو ولس غوښتنواو ارادو ته غاړه کیږدی او د هغوی سره په ګډه د ټولو روانو ستونزو د هواری په نظرکې نیولوسره د فساد او مافیایې ټولوهغه منفی پدیدو پرضد قاطع اوجدی مبارزه وکړی، دولت او حکومت کې داسی بنسټیز بدلون چې کاراهل دکارته وسپارل شې، د ولس دغوښتنواو ارادو درناوی، د قانون دحاکمیت ټینګښت ،جنایت کاران اودبشری حقوقوعاملین دقانون منګولو ته سپارل په جدی توګه تر سره شې. په باور سره ویلی شم چې ولس به په پوره ډاډ اوقووت سره ملاتړتری وکړی او نور به د غیرعادلانه اومصلحتی حکومتی ویش ټغرراټول کړای شې چې دا کار هم دملت په ګټه دی، هم دحکومت، او هم د بین المللی ځواکونو چې افغانستان کې حضورلری. ۲- داچې کرزی صاحب او د ده په مصلحتونو او ویش ګډ حکومت ونه توانیګی د ولس او ملت غوښتنو ته مثبت ځواب ووایې ښه به داوی چې نور دا بی وزلی ملت چې ټول هست اوبود یې ورته همدومسلکی لوټمارانوچور اوتالاکړی په خپل حالت پریږدی او دوی دی خپلی پښی سپکی اوخپلومافیایې بادارانو ته دی چې دهغوی پاسپورتونه یې جوبونوکې دی پناه ویسی. په یقین سره ویلی شم که دغه زړوراو باتور ولس پریښوول شې ترڅوپه خپله خوښه اداره اوحکومت جوړ کړی اونړی واله ټولنه ددی تیروکلونو د مرستونیمه برخه د دوی په اختیار کې ورکړی، اوملاتړتری وکړی نه به فساد وی نه به جنګ، د قانون حاکمیت به رامنځ ته شې کاربه اهل د کارته وسپارل شې، د نړیوالی ټولنی او ګاوندیوهیوادو ګټوته به د هیواد د لوړو ګټو په نظر کې نیولو سره بیلانس موجود او درناوی به یې وشې. داسی یو حکومت چې دولس د ارادی ممثل وی بین المللی ټولنه تری حمایت وکړی، کولای شې چې د افغان دولت او امریکی د ستراتیژیکو مرستو دتړون د پلی کولو جوګه شې. باورلرم چې ددغه تړون پلی کیدل چې افغانستان د یو خپلواک دولت په توګه مساوی الحقوق دامریکا سره په کې تسجیل شوی، د ګاونډیو هیوادو د هر ډول لاسوهنو مخنیوی، دقاچاق او مخدره موادو، تروریزم ضد مبارزه کې ښه ملګرتیا، د هیواد د سیاسی، کلتوری او اقتصادی بنسټونو وده اوپیاوړتیا، د پوځی نهادونودجنګی توانمندی لوړوالی او ورسره تر۲۰۲۴ز کاله پوری مالی مرستی تر څوچې دهیواد پوځی توان وشی کولای د کورنی اوبهرنی لاسوهنو او تجاوز ډاډمن ځواب ورکولی وشې، دا هغه څه دی که دتړون ژمنی د دواړواړخونو له خواعملی شې هم دافغانستان د ملی حاکمیت او ارضی تمامیت د ارزښتونوضمانت اوګرنټی کوی اوهم د نړیوالی ټولنی او امریکی د روا ګټو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ